Social Sceince
AcademicJournal

لېد د ټولنيزو علومو علمي مجله
LSSAJ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# پرټولنه د فردي دعوت تأثيراتو ته کتنه

**پوهنمل احمدعارف شهير**

اسلامي تعليماتو څانګه، شرعياتو پوهنځی، هلمند پوهنتون، هلمند، افغانستان

د مسؤل بريښناليک: a.arif5911@gmail.com

**ترلاسه سوې:** ۱۴۰۵/۰۲/۰۸ **منل سوې:** ۱۴۰۵/۰۳/۱۹ **خپره سوې:** ۱۴۰۵/۰٦/۳۱ **د ثبت ګڼه:** LSSAJ-3-1-10 **مخونه:** ۱۱۱-۱۲۷

**لنډيز**

پر ټولنه د فردي دعوت تأثيراتو ته کتنه د اسلامي دعوت د مهمو موضوعاتو څخه يوه ده چي د دعوت د لارو چارو څخه ګڼل کيږي او د تطبيق مجال يې د مسلمانانو پر همهمه وجيبه ده، ځکه ټول مسلمانان بايد دعوتي چاري ترسره کړي، دا يو مهم اصل دی چي بايد د ټولني ټول وګړي د اسلامي اصولو سره مطابق خپله وجيبه چي دعوت او د اسلام دين ته رابلل دي بايد ترسره کړي، ددې اصل په مراعت کولو سره کولای سو د اسلامي ټولني درلودونکي واوسي، زمونږ هدف دلته له دې څېړني پرټولنه د فردي دعوت تأثيراتو ته کتنه د ټولني د ستونزو حلول دي او يوه منظمه ټولنه درلودل دي تر څو د اسلامي اصولو مطابق ژوند وکړو، زمونږ د څېړني تګلاره تحليلي او توصيفي ده چي د کتابتوني ميتود پربنسټ ترسره سوې ده، تر څو دا ښکاره سي، چي په اسلامي شريعت کي د يو مسلمان پر بل مسلمان ځانګړي حقوق موجود دي چي بايد هر انسان ته وخت پروخت بااندي دعوت سي.

**کليدي کلمې:** تأثيرات، ټولنه، دعوت، رابلل، مسؤليت، فرد.

# دراسة آثار الدعوة الفردية في المجتمع

**الاستاذ المساعد احمد عارف شهير**

قسم التعليمات الاسلامية، كلية الشريعة، جامعة هلمند

Email: a.arif5911@gmail.com

**المخلص**

يعد بحث آثار الدعوة الفردية على المجتمع من أهم مواضيع الدعوة الاسلامية، التي تعتبر احدى مناهجها، ويعد تطبيقها واجبا عالميا على جميع المسلمين اذ يجب على كل مسلم القيام بأعمال الدعوة، هذا مبدأ أساسي يلزم جميع أفراد المجتمع بأداء واجبهم في الدعوة الى الاسلام، وفقا لأحكام الشريعة الاسلامية، وبالالتزام بذا المبدأ، يمكننا بناء مجتمع اسلامي متماسك هدفنا هنا من خلال دراسة آثار الدعوة الفردية على المجتمع وبناء مجتمع منظم يتيح لنا العيش وفقا لأحكام الشريعة الاسلامية يعتمد منهجنا البحثي على التحليل والوصف مستندا الى المنهج المكتبي ليبين بوضوح وجود حقوق خاصة للمسلمين في الشريعة الاسلامية والتي يجب على كل انسان أن يدعى اليها بين الحين والآخر.

**الكلمات المفتاحية:** دعوة فرد، تأثيرات، مجتمع، دعوة، مسئولية.

## سريزه

الحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على نبينا محمد وعلى آله وصحبه وسلم، أما بعد:

د الله جل جلاله لورته دعوت (بلنه) د الله جل جلاله خواته د ځان نژدي کولو يوه ځانګړي او ښه وسيله ده نوځکه د الله جل جلاله ددې قول يادونه کو چي په دې هکله الله سبحانه وتعالی په خپل مبارک

کلام کي فرمايلي دي: [وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلاً مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ]. [سورة فصلت: آية نمبر: 33].

ژباړه: او د هغه چا له خبري څخه به ښه خبره د بل چا وي چي هغه د الله خوا ته بلنه ورکړه او نېک عمل يې وکړ او ويې ويل چي زه مسلمان يم.

همدارنګه د الله جل جلاله رسول صلى الله عليه وسلم داسي فرمايلي دي: « فَوَاللَّهِ لأَنْ يُهْدَى بِكَ رَجُلٌ وَاحِدٌ خَيْرٌ لَكَ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ ». صحيح البخاري، ۱۰۷۷/۳.

ژباړه: پيغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل: په الله قسم که يو څوک ستا په واسطه باندي د نيکي لاري هدايت تر لاسه کړي ستا لپاره تر سرو او ښانو هم غوره او بهتره ده. (بطال, 1423هـ - 2003م).

همدارنګه بايد ووايو چي د الله جل جلاله طرفته دعوت (بلنه) په دوه ډولونو ويشل سوي ده: لومړی ټولنيز دعوت چي د خطيبانو، مدرسينو او واعظينو لخوا ترسره کيږي، دوهم: فردي دعوت چي د هر مؤمن فرد د سالمي تربيي ښکارندويي کوي.

که فکر وکړو ټولنيز دعوت د الله لور ته زياته پاملرنه سوي ده نسبت فردي دعوت ته، هېره دي نه وي چي فردي دعوت هم په خپل وار سره د پامه غورځول ناسم کار دی.

کولای سو ووايو چي فردي دعوة د ټولنيز دعوت پرتله د علم لرلو ته زياته اړتيا نلري، د همدې لامل په سبب مو وغوښتل د ټولنيز دعوة ترڅنګ د فردي د عوة په هکله ځوان نسل ته د هغوی مسئوليت ور په ګوته کړو.

**د ځېړني ستونزه**

د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د اخلاقو په هکله ټولي نړۍ ته جوته ده چي د هغه صلى الله عليه وسلم په دعوتي چارو کي قرباني بې ساري وه او د الله جل جلاله د دين په لحاظ ئې د هر ډول قرباني ورکولو ته غاړه اېښې وه، د همدې اصل پربنياد مونږ هم وغوښتل چي د اسلامي او افغاني ټولني لپاره چي د ستونزو په له منځه وړلو کي ورسره مرسته کولای سو تر خپل وس پوري ئې لاس نيوی وکړو او په راتلونکي کي ئې په ديني برخه کي د ستونزو څخه پاکه ټولنه ولرو.

**د څېړني أهميت او اړتيا**

هره يوه ترسره سوې څېړنه د زيات أهميت درلودونکي وي چي زما ددې څېړني أهميت هم زيات دی، که په عمومي شکل سره د اسلامي ټولنو حالاتو ته پاملرنه وکړو د فردي دعوت داسي څه نه ترسترګو کيږي چي په ديني لحاظ د انسان الهې مينه ورباندي خړوبه سي، د اسلام د مبارک دين هره برخه د مسلمانانو لپاره په زړه پوري ده، د خپلي ټولني په حال باندي ځان خبرول او د هغوی لپاره اړين ګامونه اخيستل د همدې فردي دعوت په مټ رامنځه کيږي، همدارنګه ددې څېړني أهميت د افرادو نه بلکي د ټولنو په اصلاح او تربيه کولو کي زياته مرسته کولای سي، د أهميت له پلوه ددې څېړني ساری کم ترسترګو کيږي.

ویلای سو چي ددې څېړني أهمیت له پامه غورځول به زما په ګمان د دین سره بي پروایي وي، او هرڅومره چي مونږ د دین سره نژدي اړیکه ساتو همدا به راته د دنیا او آخرت د نیکمرغیو وسیله وي.
د ننۍ ټولني د ستونزو څخه د خلاصون لار یوازي په دیني اړخ کي ستونزو ته د حل لاري پیداکول دي، ضرورت هم دادی چي خپل په ذهن کي راڅرخېدونکي ستړیا د ټولني د وګړو سره شریکه کړو ترڅو هغوی ورڅخه ګټه واخلي، د اوسنۍ ټولني د لیکوالانو او څېړونکو پر ذمه یو دروند مسئولیت دی چي همدا مسئولیت بغیر له تحقیق او زحمت اېستلو څخه نه جبرانېږي، د همدې څېړنو پرمټ به وکولای سو خپل مسئولیت پوره اداء کړو.

## د څېړني موخي

دا سمه ده چي د هري څېړني لپاره ځانګړي موخي او اهداف وي چي زما ددې څېړني موخي په دې ترتیب دي:

۱: پرېټولنه د فردي دعوت تأثیرات د اسلامي شریعت په رڼاکي.
۲: د فردي دعوت په وسیله باید انسانان الهي رضاء حاصله کړي.
۳: د فردي دعوت په عملي کولو سره کولای سو دنیوي او اخروي ستونزي هواري کړو.

## د څېړني پوښتني

۱: ایا د اسلام د مبارك دین په فردي دعوت انسانان مکلف کړي دي؟
۲: ایا د فردي دعوت دومره أهمیت دی چي الهي رضا وربانديي حاصله کړو؟
۳: څنګه کولای سو د فردي دعوت له لاري د دنیا او آخرت ښېګڼي ترلاسه کړو؟

## د څېړني اړوند پخوانیو آثارو ته کتنه

دې څېړني ته ورته بله په نمونه ئې شکل نه ده ترسره سوې چي زه ئې یادونه وکړم.
بله څېړنه په عربي ژبه ترسره سوي ده چي د (الدعوة الفردية أهميتها، حالاتها، عوامل نجاحها) ترعنوان لاندي د (الدكتور صالح بن يحيى صواب) لخوا ترسره سوې ده.
بله څېړنه په عربي ژبه ترسره سوې ده چي د (الدعوة الفردية وأهميتها في تربية الأجيال) ترعنوان لاندي د (عقيل بن محمد بن زيد المقطري) لخوا ترسره سوې ده.
همدارنګه په پښتو ژبه په همدې توګه ترسره سوې څېړنې په موندلو هېڅ ونه توانیدلم،
پورتنۍ څېړنه که څه هم پرېټولنه د فردي دعوت تاثیراتو ته کتنه ، تر عنوان لاندي ده ولي یوه برخه ئې زما د څېړني سره سمون لري، او زما د څېړني توپیر د هغو سره د پښتو ژبي اړوند دی.

## مواد او کړنلاره

دا څېړنه په کتابتوني، استقرائي میتود سره ترسره سوې ده، همدارنګه دا معلومات د لومړي لاس مآخذو تفاسیرو، أحادیثو او صحابه کرامو په اقوالو باندي مشتمله ده او د هر ډول بي اساسه منابعو څخه پکښي ډډه سوي ده.

## د څېړنې موندنې

### د دعوت پېژندنه

**الف:** د دعوت لغوي پېژندنه: دعوة د دعا يدعو دعوة څخه مشتق دی، اسم ئې الدعوة دی جمع ئې دعاة دی، چې په مختلفو معانيو سره راغلی دی: غوښتنه، راټولونه، دعاء، پوښتنه، زمخشري داسي ليکلي دي دعوت فلانا يعني هغه ته مي ور بږغ کړه او هغه مي راوغوښتی.

همدارنگه دعاء په معنی د غوښتلو سره راځي لکه څنگه چې الله سبحانه وتعالی فرمايلي دي: [دَعْوَاهُمْ فِيهَا سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ]. [سورة يونس آية نمبر: 10].

ژباړه: هلته به د هغوی ويناوي داوي: « اې خدايه ته پاک يې!» ـ د هغوی دعا به داوي. او د هغوی هره وينا به په دي سره پای ته رسيږی: «ټوله ثنا او ستاينه يوازي د کائيناتو د پالونکي الله لپاره ده.»

**باء:** د دعوت اصطلاحي پېژندنه: د دعوة اصطلاحي تعريف ته که وگورو دوه نوعه تعريفونه لري:

لومړی: دعوة د اسلام او رسالة په معنا دی.

دوهم: دعوة د اسلام د دين نشرول او د رسالت اداينې ته ويل کيږي.

د دعوة د فضيلت په هکله الله سبحانه وتعالی داسي فرمايلي دي: [دَعْوَاهُمْ فِيهَا سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ]. [سورة يونس: آية نمبر: 10].

ژباړه: هلته به د هغوی ويناوي داوي: « اې خدايه ته پاک يې!» ـ د هغوی دعا به داوي. او د هغوی هره وينا به په دي سره پای ته رسيږی: «ټوله ثنا او ستاينه يوازي د کائيناتو د پالونکي الله لپاره ده.»

دعوت ته زړه ښه کول د انبياء عليهم السلام وظيفه ده چې په دي هکله الله سبحانه وتعالی داسي فرمايلي دي: [قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَى بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ]. [سورة يوسف: آية نمبر: 108].

ژباړه: ته دوی ته په ډاگه ووايه: زما لاره خو دغه ده، زه د الله لوري ته دعوت کوم. زه پخپله په پوره رڼاکښی خپله لاره وينم او زما ملگري هم؛ او الله پاك دی، او له مشرکانو سره زما څه اړيکه نشته.

همدارنگه بل آيت مبارك کي داسي صراحت دی: [كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ]. [سورة آل عمران: آية نمبر: 110].

ژباړه: اوس په نړۍ کښي هغه غوره ډله تاسي ياست چي د انسانانو د لارښودني او اصلاح لپاره منځ ته راوړل شوېده، تاسي د نېکۍ امر کوئ او له بديو منع؛ او پر الله ايمان لرئ. که د غو کتابيانو ايمان راوړی وای؛ نو د همدوی له پاره ښه وه، که څه هم په هغو کښي ځيني د ايمان خاوندان شته؛ خو د دوی زياتره کسان له فرمان څخه سر غړوونکي دي.

د اصطلاحي تعریف اړوند ویلای سو چي د الله جل جلاله طرف ته رابلل د نیکو او صالحو اعمالو د جملې څخه دي لکه څنګه چي الله جل جلاله فرمایلي دي: [وَالْعَصْرِ (1) إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ (2) إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ]. [سورة العصر: آية نمبر : 1 - 3].
ژباړه: په زمانه قسم دی؛ په یقیني ډول، انسان په لوی تاوان کښې دی، پرته له هغو خلکو څخه چي ایمان یې راوړی او ښه عملونه کوي او یو بل ته د حق نصیحت او د صبر ښودنه کوي.

**د فردي دعوة فضیلت**

د الله سبحانه وتعالی طرفته د رابللو او دعوت فضیلت د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دمبارکو آحادیثو څخه ثابت دی لکه څنګه چي پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: قال: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى كَانَ لَهُ مِنَ الأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ تَبِعَهُ لاَ يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا وَمَنْ دَعَا إِلَى ضَلاَلَةٍ كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ تَبِعَهُ لاَ يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئًا ». (النیسابوري, ۱۴۲۲).
ژباړه: د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چي د الله جل جلاله طرف او ښیګني ته بل کس را وبولي او دعوت ورته وکړي په داسي حال کي چي هغه ئې دعوت قبول کړي، د داعي لپاره هم د عمل کوونکي په څېر اجر دی او هم د عمل کوونکي په عمل اجر او ثواب کي هیڅ کمی نه راځي، همدارنګه که یو کس بل کس د بدي لور ته دعوت کړي او هغه ئې دعوت قبول کړي د همدې داعي لپاره د عمل کوونکي په څیر ګناه او عذاب سته البته د عمل کوونکي په ګناه کښې به هم هیڅ کمی نه راځي. (الصغیر, 1408هـ - 1988م).
همدارنګه امام بخاري په خپل کتاب صحیح البخاري کي د دعوت د فضیلت په هکله داسي روایت رانقل کړی دی: قال: عن سهل بن سعد رضي الله عنه : سمع النبي صلى الله عليه و سلم يقول يوم خيبر ( لأعطين الراية رجلا يفتح الله على يديه ) . فقاموا يرجون لذلك أيهم يعطى فغدوا وكلهم يرجو أن يعطى فقال ( أين علي ) . فقيل يشتكي عينيه فأمر فدعي له فبصق في عينيه فبرأ مكانه حتى كأنه لك يكن به شيء فقال نقاتلهم حتى يكونوا مثلنا ؟ فقال ( على رسلك حتى تنزل بساحتهم ثم ادعهم إلى الإسلام وأخبرهم بما يجب عليهم فوالله لأن يهدى بك رجل واحد خير لك من حمر النعم ). (الجعفي, 1407 - 1987).
ژباړه: د سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل: د خیبر په ورځ ئې وفرمایل: زه به بیرغ هغه چا ته ورکړم کوم څوک چي د هغه په سبب الله سبحانه وتعالی فتح راولي، کله چي صبا سهار سو ټول منتظر وو چي بیرغ هغه ته ورسپېري، بیا ئې وفرمایل چي علي رضي الله عنه چیري دی؟ هغوی وویل: هغه د سترګو نارغی باندي اخته دی، بیا ئې وفرمایل هغه را وغواړئ کله چي هغه را ورسیدی پیغمبر صلی الله علیه وسلم د هغه پر سترګو خپلي مبارکي لاړي و موښلي او سترګي ئې د پخوا په شان رکي روغي سوي، بیا ئې وویل: مونږ به تر هغو

ددوی سره وجنگیږو چي زمونږ په شان سي؟ بیا پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: تر هغو انتظار سه چي د هغوی سیمي ته ورسیږئ کله چي ورسیدلاست بیا ئې اسلام ته راوبلئ او هغه څه ورته بیان کړئ چي پر دوی واجب دي، ځکه چي په خدای قسم که ستا سو له لاري یو سړی هم هدایت سي او مستقیمه لاره ومومي نو دا ستا لپاره د سرو اوښانو څخه غوره ده.

## د فردي دعوت أهمیت

د الله سبحانه وتعالی طرفته فردي دعوت (رابلل) د زیات أهمیت درلودونکی دی چي په هکله ئې الله سبحانه وتعالی داسي فرمایلي دي: [وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ]. [سورة آل عمران: آية نمبر : 104].

ژباړه: په تاسي کښي باید څه خلك هرو مرو داسي وي چي د نېکۍ لوري ته بلنه وکړي، په ښو امر وکړي او له بدو منع وکړي. کوم خلك چي دا کار وکړي هغوی به بریالي سي.

همدارنگه بل آیت مبارك کي داسي فرمایلي دي: [ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ]. [سورة النحل: آية نمبر : 125].

ژباړه: [اې پیغمبره (صلی الله علیه وسلم)]، د خپل رب د لاري په لوري په حکمت او غوره نصیحت سره بلنه ورکړه، او له خلکو سره په داسي ډول مباحثه وکړه چي ډېره غوره وي. ستا پروردگار ډېر ښه پوهیږي چي څوك د هغه له لاري څخه اووښتی دی او څوك پرسمه لاره برابر دی.

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د احادیثو په رڼاکي ویلای سو چي د فردي دعوت أهمیت ډېر زیات دی چي په هکله ئې داسي ارشاد دی: قال: عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الْوَلِيدِ بْنِ عُبَادَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ بَايَعْنَا رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي الْعُسْرِ وَالْيُسْرِ وَالْمَنْشَطِ وَالْمَكْرَهِ وَعَلَى أَثَرَةٍ عَلَيْنَا وَعَلَى أَنْ لاَ نُنَازِعَ الأَمْرَ أَهْلَهُ وَعَلَى أَنْ نَقُولَ بِالْحَقِّ أَيْنَمَا كُنَّا لاَ نَخَافُ فِي اللَّهِ لَوْمَةَ لاَئِمٍ. (النسائي, 1411 - 1991).

ژباړه: د عبادة بن ولید رضي الله عنه څخه روایت دی چي هغه د خپل نیکه څخه روایت کوي وایي مونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره په امر منلو، سختي او اساني، فعالیت او جبر حالت کي اطاعت کولو باندي بیعت وکړ، همدارنگه کله چي نورو ته پر مونږ باندي ترجیح ورکول کیږي مونږ به ستاسو امر منلو ته تیار یو، هیڅ شخړه به نه کوو او حق به وایو، د الله جل جلاله په لار کي به د هیڅ ملامتیا پروا نه ساتو.

نن ورځ که کفري نړۍ ته متوجه سو ټول هغه وسایل ئې په خپل واك کي دي چي د هغو په وسیله د یو اعلان په واسطه کولای سي په میلینونو هغه کسان چي د شهوت د کمزوري غریزي ښکار دي تر تاثیر لاندي راولي ږغیزي رسنۍ، تصویري رسنۍ او چاپي رسنۍ ټولي د هغوی د خپلو اهدافو ترلاسه کولو لپاره په کار اچوي چي دهغوی ددې کړني څخه مسلمانانو ته په کار ده د فردي دعوت چي د هر

مسلمان وجیبه ده ګټه واخلي او د اسلام د مبارك دین په خپرولو کي ورسره مرسته وکړي، ترڅو ددې طوفاني سوي بیړۍ چي د مسلمانانو غفلت او ناخبري ده د سمندر تر څنډو په ډېر مهارت سره ورسوي، مسلمانان چي د نړۍ په هر ګوټ کي اوسېږي دا ئې مسئولیت او حق دی چي د اسلام ددین د خپرولو لپاره د فردي دعوت څخه ګټه واخلي، که وګورو داسي ډېر انسانان سته چي فحشا او منکراتو ته لمن وهي او هغه په ټولنه کي د خپل وس مطابق نشروي د داسي اباطیلو د نشرولو د مخنیوي لپاره یوازینۍ وسیله د فردي دعوت ترسره کول دي، فردي دعوت د انساني فطرت یوه ځانګړنه ده چي باید په آزاد شکل ورڅخه ګټه واخلو.

## د فردي دعوت فائدي

انفرادي دعوت د ټولنیز دعوت پرتله د پرمختګ لپاره یوه ښه وسیله ده، د زیاتو اړخونو څخه ځان ساتي او په یوه ځانګړي موضوع باندي متمرکزه نه وي، ټولنیز دعوت د فردي دعوت په څېر نه دی چي د هر انسان نیمګړتیاوي یو په یو حل کړي، انفرادي دعوت د ډېرو نیمګړتیاوو لرونکو انسانانو لپاره د ستونزو د حل په موخه ګټور تمامیدای سي، انفرادي دعوت د هغو لارښوونو عملي کولو تطبیق ته زمینه برابر وي چي اشخاصو ته ورکړل سوي دي، انفرادي دعوت کولای سي ټول هغه شکونه او ځرګندوني چي د خلکو په غوږونو کي راځرګندېږي له منځه یوسي، د انفرادي دعوت له لاري زیات اسلامي اصول په ښه جدیت سره ترسره کیدلای سي، د انفرادي دعوت له لاري حق د هغو کسانو تر غوږونو پوري رسول کیدای سي چي هغوی له پامه غورځول سوي دي او د خلکو سره له ناستي څخه ئې مخ اړولی دی، دا ډول دعوت د بلل سویو کسانو په شمیر کي د پام وړ زیاتوالی په چټکی سره راوستلای سي، همدارنګه د فردي دعوت له لاري افراد له نژدې څارل کیدای سي چي په ټولنیز دعوت کي دا کړنه ناشوني ده، دا ډول تبلیغ دومره زیاتي پوهي ته اړتیا نلري لکه څنګه چي په رسونه او تبلیغ کي حکمت ته اړتیا لري او دا د هغو کسانو لخوا ترسره کیدای سي چي د دعوت او تبلیغ سره مینه ولري، انفرادي دعوت زیات تکلیف ته اړتیا نلري د هر انسان لخوا په خپل کاري چاپیریال کي په اسانی سره ترسره کیدلای سي لکه یو کارمند په خپل دفتر کي، زده کړیال په خپل ښوونځي کي او کسب کار د خپل کسب په کار ځای کي.

## د فردي دعوت (تبلیغ) حالات

مونږ نه یوازي داچي هرکله باید په ټولنیز دعوت او تبلیغ باندي تمرکز وکړو بلکي زیات داسي وختونه مونږ مجبور یو چي باید په انفرادي دعوت باندي کار وکړو او د خلکو نیمګړتیاوي ورپه ګوته کړو، که څه هم ټولنیزه بلنه اسانه ده او هم ئې پیروان زیات دي مګر دلته غواړو د ځینو هغو قضیو یادونه وکړو چي فردي دعوت پکښي کارول سوی دی او مثبته پایله ئې لرلي ده.

۱: ځیني افراد په اجتماعي شکل سره د دعوت یاهم رابللو تګلاره نه خوښوي او نه هم غواړي چي د داسي کسانو په مخ کي هغه ته دعوت ورکړل سي او یاهم په داسی اجتماعي شکل سره نه غواړي د

خلکو په منځ کي ورته د بل کس لخوا دعوت ورکړل سي دده خپل طبیعت هم داسي وي چي باید په یوازي والي او تنهایي کي ورته لارښووني وکړل سي ترڅو دعوت قبول کړي په داسی حالت کي پر داعي باندي حتمي ده چي په انفرادي شکل سره دعوت مخته یوسي.

**۲:** د بد اخلاقه خلکو له ملګرتیا ځان ساتنه

د چاپیریال تاثیر په انسانانو باندي مختلف دی کله چي د انسانانو ناسته پاسته په ښه چاپیریال کی وي هله به د نورو حالات هم د اندېښني وړ نه وي، پغمبر صلی الله علیه وسلم د انسانانو حالات داسي بیان کړي دي: قال: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمَرْءُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلْ. (حنبل, 1420هـ ، 1999م).

ژباړه: ابو هریره رضي الله عنه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هر انسان د هغه د ملګري په دین دی یعني که چیري د یو چا حالت ځان ته معلومول غواړئ د هغه د ناستي پاستي ملګرو ته پام وکړئ چي څنګه خلك دي.

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم ددې قول څخه داسي څرګندېږی چي انسانان باید د ښو اخلاقو او دیني تربیې درلودونکو انسانانو سره خپل ژوند تیر کړي ځکه دده په ژوند باندي مثبت تأثیر لري، اوس واضح او څرګنده سوه چي د انفرادي دعوت لپاره دا ښه موقع ده چي باید انسانان د غوره اخلاقو درلودونکو پوهانو سره و اوسېږي.

**۳:** د بلونکي رواني حالت په نظر کي نیول:

د دعوت په وړاندي یو له خنډونو څخه د هغو کسانو کرکه ده چي له خطیبانو او هغو کسانو څخه کرکه کوي چي په ایمان باندي ولاړ دي، دا اشخاص ممکن د شیطان لخوا نیول سوي وي، حقیقت ښه درک کولای سي مګر د تکبر او ضد له امله له هغه څخه مخ اړوي او یا هم ممکن دوی د خپل مزاج څخه د اړولو په سبب نه غواړي چي دعوت قبول کړي، داسي اشخاص رابلل عامو وعظونو او نصیحتونو ته ستونزمن دي، اوس باید داعي په انفرادي شکل ددوی سره ځان ښکیل کړي، وروسته که الله تعالی غوښتي وه او دوی سمي لاري ته برابر سوه کیدلای سي په عامو درسونو کي برخه واخلي.

**۴:** د افرادو نیمګړتیاوي په ګوته کول:

ځیني اشخاص ممکن نیمګړتیاوي ولري او له همدې امله دا مسائل د ډله اېز بلنې په دوران کي نسي حل کیدلای بلکه واعظ باید د انفرادي بلنې څخه کار واخلي ترڅو ددې مسئلو په اړه د هغه کس سره بحث وکړي چي رابلل کیږي او هغه ته ئې واضح کړي.

## د فردي دعوت د کامیابي أسباب

د فردي دعوت د کامیابي لپاره ځیني أسباب موجود دي چي باید ورڅخه یادونه وکړم:

**۱:** د الله جل جلاله لپاره اخلاص

کله چي غواړو عبادات مو قبول سي دوه أساسي شرطونه باید په نظر کي ونیسو:

**أ:** اخلاص.**ب:** د پیغمبر صلی الله علیه وسلم پیروي.

د دعوت د اصولو څخه یو مهم او تر ټولو غوره اساس دادی چي داعي باید په خپل فردي او ټولنیز دعوت سره خاص د الله سبحانه وتعالی رضا ترلاسه کول هدف وي که چیري ریا او ځان ښودنه پکښې وي بیا ددې دعوت پایله مثبته نه بلکې منفي لور ته ور ګرځېدل دي لکه څنګه چي په دې هکله الله سبحانه وتعالی داسي فرمایلي دي: [وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ]. [سورة البينة: آية نمبر: 5].

ژباړه: او هغو ته پرته له دې بل هیڅ حکم نه ؤ ورکړ شوی چي: د الله بندګي وکړئ.

همدارنګه الله سبحانه وتعالی بل آیت کي داسي فرمایلي دي: [فَمَنْ كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلاً صَالِحًا وَلاَ يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا]. [سورة الكهف: آية نمبر: 110].

ژباړه: نو څوک چي له خپل پروردګار سره د یوځای کېدو په هیله وي، هغه ته په کار ده چي ښه عمل وکړي او په بندګی کي له خپل رب سره بل څوک شریک نکړي.

کله چي داعي خپل دعوتي چاري یوازي د الله جل جلاله د خاص رضا ترلاسه کول مطلب وي او د رابلونکو لپاره د هغوی اصلاح وي او خپل استقامت ئي هدف وي الله سبحانه وتعالی د داعي لپاره دومره اجر او ثواب ورکوي لکه څنګه چي د داعي لخوا د اسلام دین ته رابلل سوي کس نېکه او غوره کړنه ترسره کوي چي په دې هکله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: قال: عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى كَانَ لَهُ مِنَ الأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ تَبِعَهُ لاَ يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا وَمَنْ دَعَا إِلَى ضَلاَلَةٍ كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ تَبِعَهُ لاَ يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئًا ». (القزويني).

ژباړه: څوک چي د هدایت طرفته بلنه ورکوي هغه ته به د هغو کسانو په څېر اجر ورکړل سي چي د هغه پیروي کوي، پرته له دې چي د دوی اجرونه کم کړي، او څوک چي ګمراهۍ ته بلنه ورکوي هغو ته به د هغو کسانو په څېر سزا ورکړل سي چي د هغه پیروي کوي، پرته له دې چي د دوی ګناهونه کم کړي.

**۲:** د الله په خاطر په چا احسان نه کول:

د دعوت یو بل په زړه پوري اصل دا هم دی چي داعي باید په خپل فردي دعوت سره په هېڅ چا باندي احسان ونکړي یعني دده ټولي کړني باید د الهي رضا ترلاسه کول او د الله سبحانه وتعالی څخه اجر غوښتل وي کله چي دا ټولي کړني د الله جل جلاله د رضا لپاره وي بیا به د مثبتي پایلي ترلاسه کول ورته ستونزمن نه وي او یوازي به خپله عاجزي الله جل جلاله ته وړاندي کوي او په عاجزي کولو سره به خپلي جائزي غوښتني ترسره کوي ځکه د دعاء غوښتلو ډېري فائدي دي چي په هکله ئي د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول رانقلوو: قال: عن النعمان بن بشير عن النبى -صلى الله عليه وسلم- قال « الدعاء هو العبادة ( قَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ ) ». (السجستاني, (ـــــ).

ژباړه: د نعمان بن بشير څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: دعاء (غوښتنه) عبادت دی، بيا يې وويل ستاسي رب جل جلاله وايي ما و بولئ زه به ستاسي دعاوي قبولي کړم.

داعي بايد په دې باندي وپوهېږي چي نصرت او کومک کوونکی يوازي او يوازي الله سبحانه وتعالی دی چي داعي به په خپلو اهدافو کي د کاميابي لوړو پوړيو ته رسوي لکه څنګه چي الله سبحانه وتعالی فرمايي: [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَنْصُرُوا اللَّهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ]. [سورة محمد: آية نمبر : 7].

ژباړه: اې مؤمنانو که تاسي د الله (د دين) سره مرسته وکړئ، نو هغه به ستاسي سره مرسته وکړي او ستاسي قدمونه به کلک کړي.

همدارنګه په صحيح ابن حبان کي د ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم داسي وفرمايل:قال: عن أَبي هريرة - رضي الله عنه - ، قَالَ : قَالَ رَسُول الله - صلى الله عليه وسلم - : (( إنَّ الله تَعَالَى قَالَ : مَنْ عَادَى لِي وَلِيّاً ، فَقَدْ آذَنْتُهُ بالحَرْبِ ، وَمَا تَقَرَّبَ إِلَيَّ عَبْدِي بِشَيءٍ أَحَبَّ إِلَيَّ مِمَّا افْتَرَضْتُ عَلَيهِ ، وَمَا يَزَالُ عَبْدِي يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بالنَّوَافِلِ حَتَّى أُحِبَّهُ ، فَإِذَا أَحْبَبْتُهُ ، كُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِي يَسْمَعُ بِهِ ، وَبَصَرَهُ الَّذِي يُبْصِرُ بِهِ ، ويَدَهُ الَّتِي يَبْطِشُ(2) بِهَا ، وَرِجْلَهُ الَّتِي يَمْشِي بِهَا وَإِنْ سَأَلَنِي أعْطَيْتُهُ ، وَلَئِنِ اسْتَعَاذَنِي لأُعِيذَنَّهُ )) . (البستي, 1414 - 1993).

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: الله سبحانه وتعالی داسي فرمايلي دي: څوک چي زما د دوستانو سره دښمني وکړي زه د هغه سره د جګړي اعلان کوم، زما بنده د هغه څه پرتله چي ما ورباندي فرض کړي دي نه نژدي کيږي، او زما بنده په نفلي کارونو سره زما سره نږدي کيږي تر هغه څه چي زه ورسره مينه وکړم، کله چی زه ورسره مينه لرم، زه د هغه غوږ سم چي هغه ئې اوري، زه د هغه سترګه سم چي هغه يې ويني، د هغه لاس سم چي هغه ئې نيسي، او د هغه پښه سم چي هغه پري ګرځي، که هغه زما څخه څه وغواړي زه به ئې خامخا ورکړم، او که هغه په ما باندي د کوم شي څخه پناه وغواړي زه به خامخا پناه ورکړم.

په ننۍ زمانه کي چي د اسلام او مسلمانانو په وړاندي د کفري نړۍ دشر او فتنو خپرولو لړۍ ورځ تربلي په پراخيدلو ده د داعيانو د کاميابي راز تنها په الهې نصرت او الهې ميني سره ځان سمبالولو سره ترلاسه کيدلای سي چي په دې هکله الله سبحانه وتعالی پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته داسي فرمايلي دي: [يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ (1) قُمِ اللَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا]. [سورة المزمل: آية نمبر : 1 ، 2].

ژباړه: اې (په جامو کي) ځان نغښتونکيه، ويده کيدونکيه! شپه په لمانځه کښي په ولاړي تېره کړه خوکمه.

همدارنګه پيغمبر صلی الله عليه وسلم ابن عباس رضي الله عنهما ته داسي وصيت وکړ: قال: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ حَدَّثَهُ أَنَّهُ رَكِبَ خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا غُلَامُ إِنِّي مُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ احْفَظْ اللَّهَ يَحْفَظْكَ احْفَظْ اللَّهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ وَإِذَا سَأَلْتَ فَلْتَسْأَلْ اللَّهَ وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ وَاعْلَمْ أَنَّ الْأُمَّةَ لَوْ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ لَمْ يَنْفَعُوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللَّهُ

لَكَ وَلَوْ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَضُرُّوكَ لَمْ يَضُرُّوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللَّهُ عَلَيْكَ رُفِعَتْ الْأَقْلَامُ وَجَفَّتْ الصُّحُفُ. (الترمذي).

ژباړه: د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چي وئې فرمایل: زه یوه ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم شاته په سورلی باندي کښیناستم رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وفرمایل: اې ځوانه! زه به تاسي ته ځیني کلمات در زده کړم، د الله جل جلاله څخه و ویریږه هغه به ستاسو ساتنه وکړي، د الله جل جلاله څخه وویریږه هغه به تر هرڅه د مخه ومومي، او کله چي ته سوال او غوښتنه کوي له الله جل جلاله څخه ئې وغواړه، او کله چي مرسته غواړي د الله جل جلاله څخه ئې وغواړه، په دې هم و پوهیږه که ټول أمة ستا د ګټې لپاره را جمع سي نو تاته به ګټه ونه رسوي، مګر هغه څه چي الله جل جلاله ستا لپاره لیکلي وي، او که دوی ټول سره راجمع سي تر څو تاته زیان ورسوي، نو تاته هیڅ زیان نسي رسولای مګر هغه څه چي الله جل جلاله ستا په وړاندې مخکي له مخکي ټاکلي وي، اسناد او قلمونه پورته سوي دي او پاڼي وچي سوي دي.

دا پورتنی وصیت یوازي تر عبدالله بن عباس رضي الله عنهما پوري نه دی ځانګړی بلکي د ټول اسلامي امت لپاره تر قیامت پوري دی، د داعي لپاره داضرور او لازمي ده چي د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په سنتو باندي ټینګي منګولي ولګوي او داسي ورباندي حریص وي لکه څنګه چي یو کس د ناروغ لپاره د دوا ورکولو په وخت باندي ټینګار کوي ترڅو پرخپل وخت باندي د ناروغ درملنه ترسره سي.

**۳: علمیت لرل**

د داعي لپاره د شرعي علم ضرورت د الله جل جلاله په سبب ډېر زیات دی لکه څنګه چي د یو مجاهد لپاره په جګړه کي د سلاح ضرورت سته همدارنګه د داعي لپاره شرعي علم هم همداسي ضروري او لازمي دی ترڅو وکولای سي د الله سبحانه وتعالی ددین ساتنه ورباندي وکړي او دا ساتنه بغیر د همدې سلاح څخه ناممکنه ده، ځکه خو باید ووایو چي د را بلل سوو کسانو لپاره د داعي علمیت لرل یوه اړینه مسئله ده، که څه هم مونږ مخکي وویل چي په فردي دعوت کي د زیات علم درلودلو ته د ټولنیز دعوت پرتله ضرورت نسته، د داعي لپاره د شرعي علم ترلاسه کولو ضرورت دادی چي وخت په وخت باید د علماء کرامو سره کښیني او د هغوی سره خپله رابطه جاري وساتي تر څو د خپل علمیت کچه ورځ تربلي زیاته کړي ترڅو مثمریت ئې لازیات سي.

**۴: منظم پلان لرل**

ځیني داعیان دي چي د الله جل جلاله د دین په سبب زیات زحمت کاږي اصلاحي دعوتونه ترسره کوي مسلمانانو ته وخت په وخت خطبې او وعظونه ترسره کوي مګر ددې باوجود ئې پایلي او لاسته راوړني د زیات پام وړ نه وي دهغوی علت هم دادی چي منظم کاري او د زماني سره سم پلان نه لري، داعي باندي حتمي ده چي خپل تمرکز د هغه انسانانو لوري ته وګرځوي کوم چي دعوت ته ضرورت لري او ورته پام کوي په ځانګړي توګه هغه کسان چي د الله جل جلاله رضا حاصلول ئې د ژوند تر

ټولو ستر هدف وي، همدارنگه که مونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د مکي دور دعوتي چارو ته توجه وکړو پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغو کسانو ته په لومړي سر کي بلنه ورکړل چي هغوی د قوم مخور او مشران وه څکه خو ئې د ورځي په تیریدو سره وکولای سوه چي زیاتي لاسته راوړني ولري او په لنډ وخت کي د اسلام دین خپور او نشر کړي، ښکاره مثال ئې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم کوښښ د عمر بن الخطاب رضي الله عنه په اسلام را وړلو متمرکز وو چي په هکله ئې پیغمبر صلی الله علیه وسلم داسي فرمایل: [اللهم أعز الاسلام بأحد العمرین]. اې الله جل جلاله ته د اسلام دین ته په یوه د عمرینو قوة او عزت ورکړي چي (عمر بن الخطاب، ابوجهل عمرو بن هشام) وو، چي په هکله ئې دعبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه په بخاري شریف کي داسي روایت رانقل سوی دی: قال عبد الله : ما زلنا أعزة منذ أسلم عمر. (البیهقي أ. ب.، 1414 - 1994).

ژباړه: عبد الله بن مسعود وفرمایل: د کوم وخت راهیسي چي عمر رضي الله عنه ایمان قبول کړی دی مونږ هیڅ د مشرکانو څخه ویره او ډار نه دی احساس کړی او قوة مو تر لاسه کړی دی.

همدا سبب وو چي پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته د الله جل جلاله لخوا د ابن أم مکتوم په هکله خبرداری ورکړل سو او هغه متوجه کړل سو چي په هکله ئې الله سبحانه وتعالی داسي وفرمایل: [عَبَسَ وَتَوَلَّىٰ (1) أَنْ جَاءَهُ الْأَعْمَىٰ (2) وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُ يَزَّكَّىٰ]. [سورة عبس: آیة نمبر: 1 - 3].

ژباړه: ( محمد صلی الله علیه وسلم ) وچولی (تندی) یې تریو کړ او مخ یې واړوه؛ په دې خبره چي هغه ړوند (عبدالله) ورته راغی. (د محمد صلی الله علیه وسلم او د قریشو د مشرانو ترمنځ یې خبري پرې کړې). [اې پیغمبره (ص)!] ته څه خبر یې کیدای شي چي هغه (ړوند) پاک شي.

بل آیت مبارک کي الله سبحانه وتعالی داسي فرمایلي دي: [وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَنْ ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا]. [سورة الکهف: آیة نمبر : 28].

ژباړه: او خپل زړه د خلکو په ملگرتیا ډاډه کړه، چي د خپل روزونکي، پالونکي، واکوال د خوښې غوښتونکي، سهار او ماښام هغه ته بلنه ورکوي. او له هغو څخه هیڅکله سترگي مه اړوه. ایا ته د دنیا ښکلا خوښوې؟ د یو داسي چا اطاعت مکوه چي د هغه زړه موږ له خپل یاد څخه غافل کړی دی او د خپل نفس پیروي یې غوره کړي ده او کړنلاره یې په افراط او تفریط باندي ولاړه ده.

**۵: خپلوان رابلل**

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه مونږ ته یوه ښه تگلاره را پاته ده ترڅو د هغې په پیاده کولو سره وکولای سو لومړی خپلوانو ته بلنه ورکړو او دهغوی څخه ئې پیل کړو چي په دې هکله الله جل جلاله پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته داسي وفرمایل: [وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ]. [سورة الشعراء: آیة نمبر: 214].

ژباړه: خپل ډېر نژدې خپلوان ( د الله د عذاب څخه ) و وېروه.

د داعي لپاره ترټول مهمه او جدي پاملرنه داده چي باید خپلوانو ته مراجعه وکړي ترڅو هغوی د دعوت ومني او همدارنګه د ستونزو پر مهال د داعي مرستندوی او دهغوی حق اداکړل سوی وي.

**٦: ټولو اشخاصو ته پاملرنه**

د انفرادي دعوت په لړۍ کي باید داعي د هر شخص لپاره ځانګړي توجه وکړي ترڅو دهغه پام ځان ته راجلب کړي.

**٧: تدریجي دعوت**

د داعي لپاره دا نه ښايي چي په لومړي ځل دي يو کس ته دعوت ورکړي او خامخا دې ئې هغه قبول کړي بلکي په څو څو ځله دې دعوت ورته وکړي تر څو هغه ددې لاري مل پاته سي، ځکه که داعي غواړي چي په لومړي ځل دي د هغه دعوت ومنل سي دا د نبوي سنتو او تګلاري خلاف ده، چي مونږ ئې د نبوي دور په هکله ویلای سو چي په لومړي دور چي مکي دور دی لومړی عقاید، بیا څه زمانه وروسته روژه، بیا زکاة وروسته حج کولو باندي احکام وضع سوه، الله سبحانه وتعالی د شرابو حرمت په لومړي وار نه دی منع کړی بلکي په تدریجي شکل سره ئې حراموالی راغلی دی: [وَمِنْ ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالْأَعْنَابِ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَرًا وَرِزْقًا حَسَنًا إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ]. [سورة النحل: آية نمبر : 67].

ژباړه: په همدې ډول موږ د خرماوو او انګورو د مېوو له شیرو څخه هم یوشی په تاسي څښنو چي تاسي د نیشي مواد هم ورڅخه جوړوئ او پاکه روزي هم. په باوري ډول په دې کي له پوهي څخه د کار اخیستونکو لپاره یوه نښانه ده.

بیا الله جل جلاله دا آیت نازل کړ: [يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِنْ نَفْعِهِمَا]. [سورة البقرة: آية نمبر : 219].

ژباړه: خلک ستا څخه پوښتنه کوي چي: « د شرابو او جواری (قمار) څه حکم دی؟ » ورته ووايه: په دواړو کښي لویه ګناه ده، که څه هم د خلکو لپاره یو څه ګټه هم پکښي وي، خو ګناه ئې له ګټي څخه ډېره زیاته ده.

د هغه وروسته الله جل جلاله بل حکم نازل کړ: [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَى حَتَّى تَعْلَمُوا مَا تَقُولُونَ]. [سورة النساء: آية نمبر : 43].

ژباړه: اې مؤمنانو! کله چي تاسي د نشي په حالت کښي یاست، نو لمانځه ته مه نژدې کیږئ، لمونځ باید په داسي حال کښي وکړئ چي تاسي پوهېږئ چي څه وایاست.

په وروستي ډول سره الله جل جلاله دا حکم نازل کړ: [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ]. [سورة المائدة: آية نمبر : 90].

ژباړه: اې مؤمنانو! په یقیني توګه شراب، جواري (قمار)، درشلي (بتان) او د فال نیولو غشي ټول ناولي او شیطاني کارونه دي. له هغو څخه ډډه وکړئ، هیله ده چي تاسي ته به بری درپه برخه شي.

داعي باید د مدعو (رابلونکي) حالت په نظر کې ونیسي تر څو هغه ته د تکلیف احساس پیدا نسي.
داعي ته نه ښايي چې مدعو ته دومره تکلیف ورسيري چې بیا دعوت منلو ته چمتو نه وي.

**۸: د بلني وړ کس لپاره مناسب چاپيريال برابرول**

لکه څنګه چې مو مخکي يادونه کړي وه چې چاپيريال د انسان پرحالت باندي تاثير لري ځکه خو باید د دعوت پرمهال د مدعو لپاره ځانګړی او غوره چاپيريال انتخاب کړل سي.

**۹: په نصیحت کې میانه روي**

داعي چې کله د اسلام د دین په هکله چاته بلنه ورکوي بیا میانه روي اختیار کړي همدارنګه په ناست مجلس کې باید هغه کس چې د داعي هدف دی زيات کتل ورته ونکړي، داعي باید متمرکز وعظ او نصیحت وکړي داسي نه چې پر رابلونکو کسانو باندي تکلیف سي.

**۱۰: ډالی**

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه ثابته ده چې داسي ئې وفرمايل: يقول في قول النبي صلى الله عليه و سلم: قال: عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- :« لَوْ أُهْدِىَ إِلَىَّ ذِرَاعٌ لَقَبِلْتُ وَلَو دُعِيتُ إِلَى كُرَاعٍ لأَجَبْتُ ». : (البيهقي, 1344 هـ).

ژباړه: د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمايل: که يو څوك ماته د حیوان ښنګری چې د پښي په وروستی برخه کې هډوکي ته ورته ځای دی هغه به هم قبول کړم.

داعي باید بخل ونکړي ځکه همدا تحفه ده چې د انسانانو ترمنځ محبت او ورور ګلوي رامنځته کوي که څه هم ډېر لږ څه وي، یعني هدیه ورکول د داعي لخوا رابلونکي کس ته په دې معنی نه دي چې د داعي رابطه ورسره مخکنۍ وه بلکي د یو نوي کس د راجلبولو په موخه باید داکړنه ترسره سي.

**۱۱: رفق او نرمي**

داعي باید د رابلونکو سره نرمي وکړي او غوره چلند ورسره وکړي ترڅو هغوی د اسلام د دین قبلولو لپاره لار هواره کړي لکه څنګه چې په دې هکله الله سبحانه وتعالی داسي فرمايلي دي: [فَقُولاَ لَهُ قَوْلاً لَيِّنًا لَعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَى]. [سورة طه: آية نمبر : 44].

ژباړه: له هغه سره په نرمۍ خبري وکړئ، ښايي چې هغه نصیحت ومني یا و وېرېږي.

همدارنګه د أحادیثو څخه هم د نبي علیه السلام رفق او نرمي ثابته ده لکه څنګه چې په دې روایت کې ئې يادونه کوو: قال: أن أبا هريرة قال قام أعرابي فبال في المسجد فتناوله الناس فقال لهم النبي صلى الله عليه و سلم ( دعوه وهريقوا على بوله سجلا من ماء أو ذنوبا من ماء فإنما بعثتم ميسرين ولم تبعثوا معسرين ). (الجعفي, 1407 - 1987).

ژباړه: ابو هريره رضي الله عنه فرمايلي دي: چې يوه ورځ په مسجد کې يوه اعرابي متيازي وکړي، خلکو غوښتل چې هغه ورټېي او پرهغه باندي ئې په لوړ آواز سره نعري کړي، مګر پیغمبر صلی الله علیه وسلم

هغوی ته وفرمایل: هغه پرېږدئ او هېڅ مه ورته وایاست دهغه پربولو باندي یوه لوټه اوبه وشیندئ او هغه ومینځئ مونږ آساني کوونکي رالېږل سوي یو نه سختي کوونکي.
داعي باید اسلام ته رابلونکو کسانو سره نرمي او ښه چلند وکړي او خپلوانو ته لومړیتوب ورکړي.

**۱۲: تیرو کړنو ته نه پاملرنه**

کله چي یو کس غواړي چاته دعوت ورکړي د هغوی غلطي او تیري ستونزي ورته بیانوي په داسي حال کي چي دا غوره کړنه نه ده باید ورته د هغوی د تیرو نیمګړتیاوو په هکله هېڅ هم ونه ویل سي ځکه اوس هغه توبه ګار سوی دی او توبه ئې اېستلي ده نور د هغه حساب د الله سبحانه وتعالی سره دی ان شاء الله چي ټول ګناهونه به ئې بخښل سوي وي.

**۱۳: د مختلفو وسائلو او تګلارو غوره کول**

داعي باید په خپلو وسائلو، تګلارو او همدارنګه د وخت تغیر ته پام وکړي باید د مختلفو لارو چارو څخه کار واخلي تر څو د را بلونکو لپاره سر درد جوړ نسي او مثبته پایله ترلاسه کړي.

**بحث او مناقشه**

ددي څېړني عنوان پرټولنه د فردي دعوت تأثیراتو ته کتنه په اړه ترسره سوي څېړنه دا روښانه کوي چي دا موضوع د اسلامي شریعت له بنسټیزو موضوعاتو څخه ده چي په ټولنه باني يې تأثیرات مثبت او ډېر زیات دي، څېړنه دا ښیي چي ددې دعوت چي فردي دعوت دی د ټولني په اصلاح کولو کي مثبت رول لري، ددې دعوت ګټه نه یوازي داچي هماغه فرد ته رسیږي بلکي د ټولني ټول اقشار ورسره هوسا او د أخروي ژوند په طرف متوجه کوي، په دې برخه کي زیاتي لیکني سوي دي، چي هر لیکوال د خپل منهج او تګلاري مطابق نوموړي موضوع تشریح او ترتیب کړي ده، او په دې برخه کي د خپلي ټولني ستونزو ته په کتلو د فردي دعوت لاري چاري ذکر کړي دي، مونږ هم د خپلي ټولني د ستونزو په پام کي نیولو سره د فردي دعوت اړوند موارد په ساده پښتو ژبه سره روښانه کړي دي. د تحقیق له نتایجو څرګندېږي چي هر مؤمن باید دعوتي چاري په چټکۍ سره پرمخ یوسي، او همدارنګه د داعي لپاره داهم ضروري ده چي کوم شرایط د ده لپاره ټاکل سوي باید لومړی په هغه خان ملبس کړي، فردي دعوت د ټولني د سمون تضمین کوي.
په څېړنه کي پرټولنه د فردي دعوت تأثیراتو ته کتنه په ښه توګه سره بیان سوی دی یعني پرټولنه د فردي دعوت تأثیرات ډېر زیات دي. په څېړنه کي د فردي دعوت ګټې بیان سوي دي چي د اسلامي شریعت په رڼاکي ورته بیان سوي دي، دا څېړنه تحلیلي او توصیفي ده مګر بیا هم ځیني محدودیتونه لري هغه داچي د پخوانیو مصادرو او مراجعو څخه استفاده سوي. د اسلامي ټولني ټول مسلمانان کولای سي د فردي دعوت لاري چاري غوره کړي او ګټه ورڅخه واخلي.

**پایله**

د څېړني پایله په لاندي څو ټکو کي ذکر کوو:

۱ـ پرتېولنه د فردي دعوت تأثیراتو ته کتنه یوه مهمه چاره ده چې باید ورته زیاته پاملرنه وسي، ترڅو مو په خپلې ذمې فارغه کړي وي.

۲ـ په اسلامي شریعت کې د دعوت لپاره متې رانغښتل د قربانۍ په معنی دي چې باید هر څوک دا کړنه ترسره کړي.

۳ـ پرتېولنه د فردي دعوت تأثیراتو ته کتنه د ټولني د ستونزو لپاره حل لاره ده.

۴ـ فردي دعوت ته باید هر انسان مخه کړي او دایي مسئولیت دی.

۵ـ د فردي دعوت اصول هم دادي چې باید په ټولو باندي مخته یو وړل سي.

د ژوند په ټولو اړخونو کې باید د عوتي چاري ترسره سي حتی د کور څخه نیولي آن تر ټولني پوري.

**وړاندیزونه**

هره څېړنه ځانګړي وړاندیزونه لري، زمونږ د څېړني وړاندیزونه په لاندي ډول سره دي:

۱ـ خطیبان او دعوتګران باید دعوتي چارو ته پامرنه وکړي؛ ځکه دعوتي چاري د هر مسلمان لپاره اړیني دي.

۲ـ پرتېولنه د فردي دعوت تأثیراتو ته کتني اړوند څېړنکي باید لا زیاتي لیکني وکړي، ددې کړني ترسره کول زیات مهم دي.

۳ـ ټول مسلمانان یو په بل باندي حق لري تر څو د نیکي لاري لارښووني ورته وکړي.

**اخځلیکونه**

القرآن الکریم

۱: البستي, م. ب. (1414 - 1993). *صحیح ابن حبان بترتیب ابن بلبان* (۱۸ ټوک). بیروت: مؤسسة الرسالة.

۲: البغوی, ش. ا. (1403هـ - 1983م). *الحسین بن مسعود البغوي* (۱۵ ټوک). بیروت: المکتب الإسلامي - دمشق.

۳: البهوتي, م. ا. (ــ ج: ٦، ص: ۳٦۰). *کشاف القناع* (ج: ٦ ټوک). بیروت: دار الفکر.

۴: البیهقي, أ. ب. (1344 هـ). *السنن الکبری وفي ذیله الجوهر النقي* (۱۰ ټوک). حیدر آباد: مجلس دائرة المعارف النظامیة الکائنة في الهند.

۵: البیهقي, أ. ب. (1414 - 1994). *سنن البیهقي الکبری* (۱۰ ټوک). مکة المکرمة: مکتبة دار الباز.

٦: الترمذي, ا. ا. (نیټ نشته). *محمد بن عیسی أبو عیسی الترمذي السلمي* (۵ ټوک). بیروت: دار احیاء التراث العربي.

۷: التعریفات. (1405). *علي بن محمد بن علي الجرجاني* (۱ ټوک). بیروت: دار الکتاب العربي.

۸: الجعفي, م. ب. (1407 - 1987). *صحیح البخاري* (٦ ټوک). بیروت: دار ابن الکثیر الیمامة.

الدارمي, ا. ع. (۱۴۰۷ق). *سنن الدارومي* (ج:۲ ټوک). بیروت: دار الکتاب العربي.

۹: الدمشقي, ا. ا. (۱۹۱۹م). *تفسیر القران العظیم* (۸ ټوک). دار الطیبه للنشر والتوزیع.
۱۰: الزرعي. (ـــ ج: ۴، ص: ۲۲۶). ،*إعلام الموقعین عن رب العالمین*.
۱۱: السجستاني, أ. د. ((ـــــ). *سنن أبي داود* (ج:۴ ټوک). بیروت: دارالکتاب العربي.
۱۲: الشوکاني, م. ع. (نیټه نشته). *نیل الاوطار* (ج:۹ ټوک). ادارة الطباعة المنیریة.
۱۳: الصغیر, ا. ب. (1408هـ - 1988م). *الإمام الحافظ زین الدین عبد الرؤوف المناوي* (۲ ټوک). الریاض: مکتبة الإمام الشافعي.
۱۴: الطحاوی. (1415هـ ق،). *مشکل الاثار* (۱۵ ټوک). بیروت: مکان النشر لبنان.
۱۵: الفرج, ع. ا. (1399 - 1979). *صفة الصفوة* (۴ ټوک). بیروت: دار المعرفة.
۱۶: القرآن, ج. ا. (1420 هـ - 2000 م). *الطبري*، (۲۴ ټوک). مؤسسة الرسالة.
۱۷: القرآن, ج. ا. (1420 هـ - 2000 م). *محمد بن جریر بن یزید بن کثیر بن غالب الآملي، أبو جعفر الطبري*، (۲۴ ټوک). مؤسسة الرسالة.
۱۸: القزویني, ا. ،. (نیټه نشته). *سنن ابن ماجه* (۲ ټوک). بیروت: دار الفکر.
۱۹: القزویني, ا. أ. (۱۳۹۹ق). *شرح معانی الاثار* (ج:۴ ټوک). بیروت: دار الکتب العلمیة.
۲۰: الموطأ. (1425هـ - 2004م). *مالك بن أنس* (۸ ټوک). مؤسسة زاید بن سلطان آل نهیان.
۲۱: النسائي, أ. ب. (1411 - 1991). *سنن النسائي الکبری* (۶ ټوک). بیروت: دار الکتب العلمیة.
۲۲: النیسابوري, أ. ا. (۱۴۲۲). *صحیح مسلم* (8 ټوک). بیروت: دار الجیل بیروت + دار الأفاق الجدیدة.
۲۳: النیسابوري, م. ب. (1411 - 1990). *المستدرك علی الصحیحین* (۴ ټوک). بیروت: دارالکتب العلمیة.
۲۴: الوسیط, ا. (نیټه نشته). *محمد سید طنطاوي* (۱ ټوک). موقع التفاسیر.
۲۵: بطال, ش. ص. (1423هـ - 2003م). *أبو الحسن علي بن خلف بن عبد الملك بن بطال البکري القرطبي* (۱۰ ټوک). الریاض: مکتبة الرشد - السعودیة.
۲۶: حنبل, أ. ب. (1420هـ ، 1999م). *مسند الإمام أحمد بن حنبل* (۵۰ ټوک). موقع الإسلام: مؤسسة الرسالة.
۲۷: دیوبندي. (۱۳۲۳، ج:۲، ص: ۶۱۶). *کابلي تفسیر*.
۲۸: نستعین, م. ا. (1393 - 1973). *مدارج السالکین* (۳ ټوک). بیروت: دارالکتاب العربي.
۲۹: والخمول, ا. (1409 - 1989). *التواضع والخمول - ابن أبي الدنیا* (۱ ټوک). بیروت: دار الکتب العلمیة.
۳۰: یعقوب, ا. م. (نیټه نشته). *القاموس المحیط* (ج:۱ ټوک).

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Academic Journal

**Volume:3 Issue: 1 Year:1405**